


رَضِیَ اللہُ عنہا

# سیدۂ کائنات

# کے 3 معمولات

20-February 2026

(For Islamic Brothers)

هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

پۀ 20 فروری، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 2 رَمَضَانُ المُبَارَک، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# د سَیِّدۂ کائنات رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا درې معمولات

پہ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- سیِّده فاطمه د خوږ مصطفٰی آئینه
- د روژې میاشت د سخاوت میاشت ده
- سَیِّده پاک او د تِلاوت کثرت
- د شپې د عبادت کوونکو د پاره اِنعامونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا رَسُوۡلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د اخري نبي، مکي مَدَني** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** څوک چې د جُمعې په ورځ د مازيګر نـمونځ ادا کړي بيا د خپل ځائے نه د پاڅيدو نه مخکښې په ما باندې 80 کرته دا درود ولولي: اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدِ نِ النَّبِیِّ الۡاُمِّیِّ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحۡبِہٖ وَسَلِّمۡ تَسۡلِیۡمًا، نو د هغۀ د 80 کالو ګناهونه بخښلے کيږي او د هغۀ د پاره د 80 کالو عبادت ليکلے کيږي۔ (1)

کاسه عمل کا خالی تھا ایسا کرم ہوا | جنت میں لے گئی مجھے عادت درود کی

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**پۀ حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ (2)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پۀ اَدَب به کښينم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❀ څۀ چې

---

1... افضل الصلوات للنبهانی، صفحه:25۔

2... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! ستاسو دې ډېر ډېر مبارک شي--! د **الله** پاک په کرم سره، د هغهٔ په فضل او اِحسان سره یو ځل بیا **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** تشریف راوړے دے۔ یقیناً چې خوش قِسمته دي هغه خلق کوم چې د ظاهري او باطِني ادابو سره روژې نیسي او د زړهٔ په خوشحالۍ 20 رکعته تروایح کوي، د پیشمني او د روژه ماتي برکتونه او د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** سپرلي حاصلوي او ډېر بد قِسمته دي هغه خلق کوم چې په دې مبارکو ساعتونو کښې د نیکو نه محرومه دي، روژې نهٔ نیسي، تراویح نهٔ کوي یا که کوي یــې هم نو پوره یــې نهٔ کوي، د بخښنې او مغفرت او د رحمت په دې عظیم الشانه میاشت کښې هم د **الله** پاک او د رسولِ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا والا کارونو نه لرې دي۔ د دواړو جهانو سلطان، شهنشاه کون و مکان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: زما اُمت به ذلیله او رسوا کیږي نهٔ تر څو پورې چې د روژې د میاشتې حق ادا کوي۔ عرض اوکړے شو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** په حق ضائع کولو کښې د دوئي ذلیله او رسوا کیدل څهٔ دي؟ اوئې فرمائیل: په دې میاشت کښې د هغوئي حرام کول۔ بیا یــې وفرمائیل: چا چې په دې میاشت کښې زِنا اوکړه یا یــې شراب وڅښل نو د راتلونکي رمضان پورې **الله** پاک او څومره اسماني فرښتے دي ټول به په هغهٔ باندې لعنت وائي، که هغه کَس د راتلونکي روژې میاشت نه مخکښې مړ شو نو د هغهٔ سره به هیڅ داسې نیکي نهٔ وي، کومه چې دے د دوزخ د وور نه بچ کړے شي۔ **بس تاسو د روژې د میاشتې په معامله کښې ویریږئ ځکه چې څنګه په دې میاشت کښې د نورو میاشتو په مقابله کښې نیکۍ زیاتولے کیږي، دغه شان د ګناهونو معامله هم ده۔** (1)

1...معجم صغیر، جلد:9، صفحه:60، حدیث:1488۔

الله پاک دې مونږ ټولو ته رمضان په ښه انداز کښې ❁ د الله پاک د رضا والا کارونو کولو ❁ د هر ساعت د قدر کولو ❁ په نیکو کښې ❁ په عبادتونو کښې ❁ په ذِکر او فِکر کښې ❁ د قبر په یادولو ❁ د مدینے منورې د یادونو په زړهٔ کښې د ډیره کولو ❁ د ښه اخلاقو په څرګندولو ❁ د مور او پلار په ادب کولو ❁ د خپلوانو دوستانو سره د نیکۍ په کولو ❁ د ګاؤنډیانو په حقونو ادا کولو ❁ د غریبانو په مدد کولو کښې د تیرولو او د رَمَضَانُ المُبَارَک د ښه ډیر فیضان حاصلولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں

مَہِ رمضان کے صدقے میں فرما دے کرم مولیٰ! (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په دریم رَمَضَانُ المُبَارَک د سَیِّدهٔ کائنات سَیِّده فاطمةُ الـزهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د وصال ورځ ده.

## د سَیِّده فاطمـةُ الـزهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا مختصر تعارف

حضرت فاطمـةُ الـزهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو کشرۍ لور او خوږه شهزادګۍ ده۔ ❁ هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا په مکه مکرمه کښې دُنیا ته تشریف راوړے۔ ❁ د هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا نوم مبارک **فاطمه** الله پاک کیښودے۔ **په حدیثِ پاک کښې دي:** بے شکه زما د لور نوم الله پاک فاطمه کیښودے ځکه چې دا الله پاک د دوزخ نه لرې کړې ده۔ (2) ❁ او په یو بَل حدیثِ پاک کښې دي: د دې نوم فاطمه کیښودے شوے ځکه چې الله پاک دا او د دې سره عقیدت لرونکي د دوزخ نه ازاد کړي دي۔ (3)

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:98۔

2...سُبُلُ الْهُدٰی، ابواب فضائل آل رسول، الباب التاسع، جلد:11، صفحه:52۔

3...کَنْزُ الْعُمَّال، جزء:12، کتاب الفضائل، فضل اهل البیت، جلد:6، صفحه:50، حدیث:34222۔

**بتول** او **زهراء** د سَیِّده فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا مشهور لقبونه دي- د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: هغه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا پهٔ دُنيا کښې پهٔ د اوسيدو باوجود د دُنيا نه جُدا وه ځکه يې **بتول** لقب شو- (1) پهٔ يو بل ځائے کښې مفتي صاحب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ليکلي دي: سَیِّده فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د جَنَّت غوټۍ وه، د حضرت فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د وجود نه به جَنَّتي خوشبوئي راتلله کومه چې به حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بوئي کوله، ځکه د هغې لقب **زهراء** شو يعنې د جَنَّت غوټۍ- (2)

بتول و فاطمہ زہراء لقب اس واسطے پایا | کہ دُنیا میں رہیں اور دیں پتہ جنّت کی نِکہت کا (3)

د حضرت فاطمةُ الزهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا ظاهري وصال د سرکارِ عالي وقار، مالک او مختار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهِري وِصال نه 6 مياشتې پس پهٔ 3 **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** پهٔ 11 هجرئ وشو- د هغې مزار مبارک پهٔ جَنَّتُ البقيع کښې دے- (4)

نبی کی لاڈلی، بیوی ولی کی، ماں شہیدوں کی | یہاں جلوہ نبوت کا،ولایت کا، شہادت کا

## سَیِّده پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم آئينه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** حضرت سَیِّدۂ کائنات رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا ډيره د اوچت شان والا ده، د هغې پهٔ ډيرو کمالاتو کښې يو ډير اهم کمال دا هم دے چې حضرت بي بي فاطِمةُ الزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا پهٔ سيرت مبارک کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ژوندے جاړ تصوير وو- د مسلمانانو خوږه مور جانه سَیِّده عائِشه صِدِّيقه طيبه طاهره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا فرمائي:

---

1...مرآۃالمناجیح، جلد:8، صفحہ:452، ملتقطاً.

2...مرآۃالمناجیح، جلد:8، صفحہ:453 بتغیر قلیل.

3...دیوانِ سالک،صفحہ:33۔

4...شرح الزرقانی، الفصل الثانی، جلد:4، صفحہ:336۔

مَا رَاَیۡتُ اَفۡضَلَ مِنۡ فَاطِمَةَ غَیۡرَ اَبِیۡهَا

ترجمه: ما د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه علاوه د حضرت فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا نه خوک بهتر نهٔ دي ليدلي- (1)

مَا رَاَیۡتُ اَحَدًا قَطُّ اَصۡدَقَ مِنۡ فَاطِمَةَ غَیۡرَ اَبِیۡهَا

ترجمه: ما د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه علاوه د حضرت فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا نه زيات خوک رښتونے نهٔ دے ليدلے- (2)

مَا رَاَیۡتُ اَحَدًا اَشۡبَهَ سَمۡتًا وَدَلًّا وَهَدۡیًا بِرَسُوۡلِ اللهِ فِیۡ قِیَامِهَا وَقُعُوۡدِهَا مِنۡ فَاطِمَةَ بِنۡتِ رَسُوۡلِ الله

ترجمه: ما د حضرت فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا نه زيات خوک د هيئت (يعني ظاهري ډَوَل)، سيرت او شکل پهٔ لحاظ سره پهٔ ناسته پاسته کښې د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره مشابه (يعنې د هغوي پهٔ شان) نهٔ دي ليدلي-(3)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سَيِّدۀ کائنات رَضِیَ اللہُ عَنۡہا دري معمولات

### (1): سوالګري د دوه وخته راسې نهٔ وه خوړلي---!

حضرت اِمام حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ بيانوي چي: يوه ورځ مونږ ټول کور والؤ ته د يو وخت د لوږې تيرولونه پس د خوراک د پاره څهٔ ميلاو شول نو والِدِ محترم (يعني حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ) او وررور حُسَين (رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ) او ما روټۍ خوړلي وه خو لا مور بي بي نهٔ وه خوړلي- چي څنګه هغې ډوډۍ ته لاس وغزولونو پهٔ دروازه کښې يو سوالګرې اواز اوکړو: اے د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شهزادګۍ! زهٔ د 2 وخته راسې وږے يم، پهٔ ما

1…معجم اوسط، جلد:2، صفحه:119، حديث:2721۔

2…مسند ابي يعلى، مسند عائشه، جلد:4، صفحه:65، حديث:4698۔

3…ترمذی، ابواب المناقب عن رسول الله، باب فضل فاطمة، صفحه:871، حديث:3876۔

باندې ډوډۍ وخورئ! مور بي بي رَضِیَ اللہُ عَنۡہا د خوراک نه لاس اوچت کړو او ما ته یې وفرمائیل: لاړ شه دا خوراک سوالګر له ورکړه! ما عرض اوکړو: مور جانې تاسو خو هم نۀ دہ خوړلې- اوئې فرمائیل: ما یو وخت نۀ دہ خوړلې خو سوالګرې د دوه وخته راسې نۀ دہ خوړلې (لهذا هغه ته د خوراک ډېر ضرورت دے)، پۀ دې اوریدو زۀ راپاڅیدم او سوالګرې له مې ډوډۍ ورکړه- (1)

بھوکے رہ کے خود اَوروں کو کھلا دیتے تھے | کیسے صابِر تھے مُحَمَّد کے گھرانے والے!

## د سخاوت مختصر فضیلتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې سَیِّدہ فاطمۃُ الزهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا څومره د صبر والا، څومره د سخاوت ذِهن لرونکې وه- اللّٰه پاک دې د دې سخي کورنۍ پۀ برکت مونږ ګنهګارانو ته هم د سخاوت توفیق راعطا کړي- د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: سَخاوت د جَنَّت پۀ وَنو کښې یوه ونه دہ، د کومې څانګې چې د زمکې طرف ته راځوړندې دي، څوک چې پۀ دې کښې یوه څانګه اونیسي، هغه [څانګه] هغه د جَنَّت طرف ته بوځي- (2) یو بل حدیث شریف دے: اَلْجَنَّةُ دَارُ الْاَسْخِيَآءِ یعنې جَنَّت د سخیانو کور دے-(3)

## رمضان او سخاوت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رمضان د میاشتې مبارک ساعتونه دي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رَمَضَانُ الْمُبَارَک پۀ معمولاتو کښې دا هم دي چې نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د روژې پۀ میاشت کښې ډېر زیات سخاوت

1...سیرت سیدہ فاطمۃ الزہرا، صفحہ:131 بتغیر۔

2...شعب الایمان، باب فی الجود و السخاء، جلد:7، صفحہ:434، حدیث:10875۔

3...فردوس الاخبار، جلد:1، صفحہ:333، حدیث:2430۔

کولو، پۀ روایتونو کښې د دې پورې دي چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د تيزې هوا نه هم زيات سخاوت فرمائيلو [1] د هغوئي نه چې به څۀ غوښتلے کيدل، عطا کول به يې۔ [2]

سُبۡحٰنَ الله! مونږ له هم د رمضان پۀ مياشت کښې خپل سخاوت زياتول پکار دي، ځکښې چې به مو څومره مال د الله پاک پۀ لار کښې ورکولو، پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د دې نه زيات ورکړو، زمونږ پۀ معاشره کښې د غريبانو کمے نشته، څومره يتيمان، مسکينان، غريبان خوران به داسې وي د کومو پيشمني او روژه ماتي چې به پۀ اوبو باندې کيږي، کيدے شي چې د کجورو د اخستو وَس يې هم نۀ وي، بيا د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نه پس ورسره اختر هم تشريف راوړي، چې دا خواران پۀ ښۀ انداز کښې روژې ونيسي، پۀ پيشمني او روژه ماتي کښې د دوئي دسترخوان هم ډک شي، د دوئي هم د الله پاک د پيدا کړے شوو نعمتونو د خوړلو موقع نصيب شي، بيا اختر هم پۀ ښه طريقه تير کړے شي، ځکه د روژې پۀ مياشت کښې ښه د زړۀ د اِخلاصه صدقه او خيرات کول پکار دي۔

## يو روژه ماتے د غريبانو سره

د صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما عادت مبارک وو چې هغوئي به روژه ماتے د مسکينانو سره کولو۔ [3]

سُبۡحٰنَ الله! چې مونږ هم نيت اوکړو چې که ډير نۀ وي نو کم از کم يو روژه ماتے خو د يو غريب سره اوکړو، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د هغۀ زړۀ ساتنه به وشي، هغه چې د زړۀ نه دعاګانې اوکړي نو اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! زمونږه بيړۍ به پارشي۔

مِلا ہے زَر تو غریبوں کے کام بھی آؤ! | نہ جس سے خِدمتِ مخلوق ہو وہ دولت کیا ہے؟

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:67، حدیث:6۔

2...الطبقات الکبریٰ، جلد:2، صفحہ:150۔

3...لطائف المعارف، صفحہ:233۔

## (2): سَیِّدۀ پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا او د تِلاوت کثرت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د حضرت بي بي فاطِمۃُ الـزَھراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا پۀ سیرت مبارک کښې دا هم دي چې هغې به ډېر زیات تِلاوت کولو- حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي چې زۀ یو ځل د حضور پر نُور، شافِعِ یومُ النُّشور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ حُکم د سَیِّده فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا پۀ خِدمت کښې حاضر شوم- ما وکتل چې حضراتِ حَسَنَینِ کریمین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما اودۀ وو او حضرت فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا هغوئي ته ببوزے وهلو او پۀ ژبه یې د **اللہ** پاک د کلام تِلاوت جاري وو- پۀ دې لیدو پۀ ما باندې یو خاص جذباتي حالت راغلو- (1)

## ډېر ډېر تِلاوت کوئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! د رمضان میاشت د قرآنِ پاک د نازلیدو میاشت ده، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ معمولاتو کښې دي چې هغوئي به د رمضان پۀ میاشت کښې ډېر زیات تِلاوت کولو- دغه شان به د **اللہ** پاک نیکانو بندګانو هم پۀ عامو ورځو کښې خو تِلاوت کولو خو پۀ رَمَضَانُ الۡمُبَارَک کښې به د هغوئي د تِلاوت کولو شوق نور هم زیاتیدلو ❁ بعضې اولیائے کرامو به پۀ رَمَضَانُ الۡمُبَارَک کښې پۀ دریو شپو کښې یو ځل د قرآنِ پاک ختم کولو ❁ حضرت اَسوَد رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ به د رَمَضَانُ الۡمُبَارَک پۀ هرو دوو شپو کښې یو ځل د قرآنِ کریم ختم کولو ❁ د اِمام نخعي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ معمول مبارک داسې وو چې هغوئي به د رَمَضَانُ الۡمُبَارَک پۀ وړومبو 20 ورځو کښې پۀ هرو دریو شپو کښې یو ځل د قرآنِ کریم ختم کولو او پۀ اخرئ عشره کښې به یې پۀ 2 شپو کښې یو ځل د قرآنِ کریم ختم کولو ❁ حضرت قتاده رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به همیشه (یعني د کال پۀ عامو ورځو کښې) پۀ 7 ورځو کښې یو ځل د قرآنِ پاک ختم کولو خو چې رَمَضَانُ الۡمُبَارَک به راغلو نو د هغوئي د تِلاوت کولو شوق به نور هم زیات شو او هغوئي به پۀ هرو دریو

1...سفینۀ نوح، صفحه: 35، حصه: 2-

ورځو کښې يو ځل د قرآنِ پاک ختم کولو، بيا به چې کله اخرۍ عشره راغله نو د تِلاوت شوق به نور هم زيات شو او هغوئي به هره ورځ يو ځل د قرآنِ پاک ختم کولو ❁ اِمامِ شافعي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ به په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې 60 کرته د قرآنِ کريم ختمونه کول ❁ او زمونږ د اِمامِ اعظم، اِمامِ ابو حنيفه رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ خو ځومره ښکلے شان دے، هغوئي به په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې 61 کرته د قرآنِ کريم ختم کولو- (1)

کاش چې زمونږ هم توفيق نصيب شي چې مونږ هم د قرآنِ کريم تِلاوت اوکړو-

هر روز میں قرآن پڑھوں کاش! خدایا | الله! تلاوت میں مرے دِل کو لگا دے

د سَیِّده پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا په وسيله مونږ هم د قرآنِ کريم د تِلاوت نيت اوکړو- که ډير نۀ وي نو کم از کم دا نيت خو اوکړو چې دا ځل به د روژې په مياشت کښې يو ځل د قرآنِ کريم د پوره ختم کولو سعادت حاصلوو- که **الله** پاک توفيق راکړي او مونږ هره ورځ صرف يوه سيپاره تِلاوت اوکړو نو اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! يو ځل به د قرآنِ کريم ختم مکمل شي-

## (3): سَیِّدۂ کائنات رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا او د شپې عبادت

حضرت علاَّمه شيخ عبد الحق محدِّثِ دهلوي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په **مَدَارِجِ النبوت** کښې نقل فرمائي: د حضرت عليُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دلبر، د حضرت فاطمةُ الزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د زړۀ قرار، حضرت حَسَن مُجتبیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: ما خپله مور بي بي حضرت بي بي فاطمةُ الزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا څو کرته وليدله چې هغې به د شپې په مسجدِ بيت (يعني په کور کښې د نمونځ د پاره په جوړ کړے شوي خاص ځائے) په محراب کښې نمونځ کولو د دې پورې چې د سحر د نمونځ وخت به شو- (2)

وہ شب بیدار، وہ صرفِ رکوع و سجدۂ پیہم | وہ جن کی ذات پہ نازاں حضور رحمتِ عالم

---

1... لطائف المعارف، وظائف شهر رمضان المعظم، صفحه:237۔

2... مدارج النبوت، قسم پنجم، در ذکرِ اولادِ کرام، سیدہ فاطمۃ الزہرا، جلد:2، صفحه:535۔

**وضاحت:** حضرت فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا توله توله شپه عبادت کوونکې، پرله پسې پۀ سجده او رکوع کښې مصروفه اوسیدونکې ده، رحمتِ عالَم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ هغې ناز کوي-

سُبۡحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے د حضرت بي بي فاطِمةُ الزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا- کاش چې د سَیِّده پاک رَضِیَ اللہُ عَنۡہا پۀ وسیله زمونږ هم توله توله شپه د عبادت کولو توفیق نصیب شي-

## شپه پۀ عبادت کښې تیرول

**الله** پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّ طَمَعًا٘ وَّ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ﴿۱۶﴾ (پاره: 21، سورۀ سجده: 16) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د هغوئي ډډې د هغوئي د بسترو نه جُدا اوسي او هغوئي پۀ ویره او پۀ اُمید خپل رب یادوي او زمونږ د ورکړے شوي [مال] نه خیرات کوي- |

دا د کامِلِ ایمان والؤ صفتونه او د هغوئي د بدلې بیان دے- فرمائي: **(1)**: د کامِلِ اِیمان والا خلق د نمونځ سره محبت کوونکي وي او د نمونځ کولو د پاره د شپې نۀ اودۀ کیږي بلکې نمونځونه کوي **(2)**: او ورسره ورسره د **الله** پاک د مخلوق سره هم محبت کوي، وږي مړوي، د غریبانو مدد کوي، د بے اَسرې خلقو اَسره جوړیږي **(3)**: ورسره ورسره د **الله** پاک نه هم ویریږي **(4)**: او د هغۀ د رحمت نه اُمید هم ساتي-

د دې شان والا چې کوم د کامِلِ اِیمان والا دي، هغوئي ته به څۀ اِنعام میلاؤیږي؟ فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّاۤ اُخْفِیَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْیُنٍ٘ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ﴿۱۷﴾ (پاره: 21، سورۀ سجده: 17) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو یو کس ته هم نۀ دے معلوم هٰغه د سترګو یخوالے کوم چې د هغوئي د پاره د هغوئي د اعمالو پۀ بدله کښې پټ ساتلے شوے دے- |

یعنې د دې سخیانو، نیکانو، د شپې عبادت کوونکو ایمان والؤ د پاره د جنَّت داسې

نعمتونه تيار کړے شوي دي کوم چې يوې سترګې هم نۀ دي ليدلي، نۀ چا ته د دې نعمتونو تفصيلي عِلم شته - د **بخاري شريف** پۀ حديثِ پاک کښې دي، **اللّٰه** پاک فرمائي:

اَعۡدَدۡتُ لِعِبَادِیَ الصَّالِحِیۡنَ مَا لَا عَیۡنٌ رَاَتۡ، وَلَا اُذُنٌ سَمِعَتۡ وَلَا خَطَرَ عَلٰی قَلۡبِ بَشَرٍ

ترجمه: ما د خپلو نيکانو بندګانو د پاره هٰغه نعمتونه تيار کړي دي کوم چې نۀ يوې سترګې ليدلي، نۀ يو غوږ د هغې ذِکر اوريدلے، نۀ پۀ يو زړۀ کښې د هغې خيال تير شوے دے- (1)

## د شپې د عبادت کولو پۀ فضيلتونو باندې حديثونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ عامو ورځو کښې هم شپې پۀ عبادت کښې د تيرولو کوشش کول پکار دي، اوس خو بيا هم د روژې مياشت ده! د نيکو مياشت ده، اوس که هم د شپې ويښ نۀ پاتې کيږې او عبادت او رياضت نۀ کوې نو بله به داسې کومه موقع وي؟ چې د شپې عبادت به پکښې کوې؟

❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: سلام عام کړئ! پۀ خلقو خوراک کوئ! او چې کله خلق اودۀ وي نـمونځ کوئ! تاسو به د سلامتيا سره جنَّت ته داخل شئ- (2) ❁ پۀ يو حديثِ پاک کښې دي: زما د اُمَّت د زيات سعادت والا خلق د قرآن والا او اَصحابُ اللَّيل (يعني د شپې عبادتونه کوونکي) دي- (3) ❁ پۀ حديثِ پاک کښې دي: هٰغه دوه رکعتونه کوم چې بنده د نيمې شپې ادا کوي، د هغۀ د پاره د دُنيا وما فيها (دُنيا او څۀ چې پۀ دې دُنيا کښې دي) نه بهتر دي، که ما دا پۀ خپل اُمَّت باندې ګران نۀ ګڼل نو دا به مې پۀ دوئي فرض کړي وو- (4)

---

1...بخاری، کتاب التفسير، باب فلا تعلم نفس ما اخفی لهم، صفحه:1215، حديث:4779۔

2...مصنف ابن ابی شيبه، کتاب الاوائل، باب اول ما فعل، جلد:8، صفحه:338، حديث:115 ملتقطاً۔

3...شُعَبُ الايمان، باب فی تعظيم القرآن، جلد:2، صفحه:556، حديث:2703۔

4...الزهد لابن المبارک، جزء:10، صفحه:364 حديث:1289۔

# د اللّٰه والؤ د شپې عبادتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د شپې عبادت د عشق او محبت والؤ، اَولياءُ الله طريقه ده، زمونږه اَسلافو، د دِين بزرګانو، د اللّٰه پاک نيکانو بندګانو به ټوله ټوله شپه په عبادت کښې تيروله ❁ حضرت حماد بن ابي سليمان رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه به ټوله شپه ويښ وو او عبادت به يې کولو- حضرت علي بن يزيد صدائي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي چې ما اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه ډير ځل ليدلے دے چې هغوئي به د روژې په مياشت کښې 60 کرته د قرآنِ کريم ختم کولو، روزانه به يې په ورځ او شپه کښې يو يو ځل- (1) ❁ حضرت ثابت بناني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه پرله پسې د 50 کالو پورې د شپې عبادت کولو، چې کله به د پيشمني وخت شو نو داسې دُعا به يې کوله: اے اللّٰه پاکه! که تا په خپل مخلوق کښې چا ته په قبر کښې د نـمونځ ادا کولو شرف عطا کړے وي نو ته يې ما ته هم راعطا کړې- اللّٰه پاک د هغوئي دا دُعا قبوله کړه، د هغوئي د قبر مبارک نه به د تلاوت اواز راتللو- (2) ❁ حضرت رابعه بصريه رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡها 50 کاله داسې تير کړل چې چرې يې هم په تکيه باندې سر نۀ وو کيښودے، هغې به ټوله شپه نـمونځ کولو او چې کله به د سحر وخت رانزدې شو نو د لږ سعت د پاره به هُم په مصله باندې سملاستله، بيا به راويښه شوه او وئيل به يې: اے نفسه! تۀ به خومره اودۀ کيږې؟ او کله به راپاڅې؟ (3)

❁ د عظيم تابعي حضرت اُويس قرني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه عادت مبارک وو چې اُويس قَرني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه به د شپې ودريدلو او وئيل به يې: نن د ودريدو شپه ده، بيا به يې ټوله شپه قيام کښې تيروله، په دويمه شپه باندې به يې وئيل: نن د رکوع شپه ده، بيا به يې ټوله شپه په رکوع کښې تيروله، په دريمه شپه به يې وئيل: نن د سجدې شپه ده، بيا به يې

1... حکايتيں اور نصيحتيں، صفحه:326۔

2... الله والوں کی باتیں، جلد:2، صفحه:489۔

3... صراط لجنان، پارہ:19، سورۂ فرقان، زیر آیت:64، جلد:7، صفحه:53 بتغیر قلیل۔

ټوله شپه هُم پۀ سجده کښې تيروله- (1)

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دي د الله پاک نيکان بندګان، دوئي به شپه ورځ عبادت ته ملا کلکه تړلې وه، آه! يو مونږ يو، اوس د روژې مياشت ده، د عبادت او د رياضت د سپرلي پۀ دې موسم کښې هم مونږه عبات نۀ کوو، آه! څومره داسې خلق دي د کومو چې د رمضان شپې پۀ فضولياتو کښې تيريږي ❀ خلق د وخت تيرولو د پاره پۀ کوڅو کښې لوبې کوي ❀ څوک پۀ فضول خبرو کښې مصروفه وي، ❀ څوک د سوشل ميډيا پۀ بے ضائع استعمال کښې شپه تيروي او ❀ څومره داسې نادانه هم دي د کومو چې د رمضان شپې هم پۀ ګناهونو کښې تيريږي- آه! کاش چې زمونږه د روژې د مياشتې قدر نصيب شي! کاش چې مونږه هم د نيکانو خلقو پۀ شان زړۀ ولګوو او عبادت کوونکي جوړ شو-

عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یاخدا! یاالٰہی!
بنادے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ | گناہوں سے ہردم بچا یاالٰہی!
مِرے دل سے دنیا کی چاہت مٹا کر | کر اُلفت میں اپنی فنا یاالٰہی!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د تهجدو فضيلت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د شپې په عبادتونو کښې يو (اهم) عبادت د تهجدو نمونځ هم دے. دا نمونځ خپل رب سره د مينې، عاجزۍ او اخلاص يو عملي اظهار دے. د تهجدو ساعتونه هُغه ساعتونه دي چې پکښې دعاګانې قبليږي او د ګناهونو د بخښنې دروازې پکښې برسيره کيږي؛ نو ځکه په رمضانُ المُبارک کښې په خاص توګه د تهجدو اهتمام کوئ. ❀ په نفلي نمونځونو کښې د ټولو نه غوره نمونځ صلاۃُ الليل (يعني د تهجدو نمونځ)

1... تفسیر روح البیان، پارہ:21، سورۂ سجدہ، زیر آیت:16، جلد:7، صفحہ:121۔

دے[1] ❁ دا نمونځ کولو سره د **رب** تَعَالٰی نزدیکت نصیب کیږي، د دې په برکت ګناهونه معاف کیږي او د ګناهونو نه بچ کیدل نصیب کیږي[2] ❁ د شپې (یعنې د تهجدو) نمونځ کوونکي به بې حسابه جنت ته داخلیږي[3] ❁ یاد ساتئ! د تهجدو د پاره اُودۀ کیدل شرط دے (اګر که د لږ وخت د پاره وي)، لهذا د اُودۀ کیدو نه بغیر والا نمونځ به تهجد نه ګڼل کیږي[4] **اللّٰه** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق را کړي.

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## د بیان خُلاصه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ د حضرت سَیِّده فاطِمۃُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا دري اعلیٰ صفتونه واوریدل ❁ هغه ډیره سخاوت کوونکې ❁ ډیره تِلاوت کوونکې ❁ او ټوله ټوله شپه پۀ عبادت کښې تیروونکې وه- کاش چې د روژې پۀ میاشت کښې او د دې نه علاوه هم زمونږه دا دري واړه اعلیٰ صفتونه نصیب شي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

## د اِعتکاف ترغیب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك میاشت راغلې ده- - د روژې د میاشتې یو ډیر اهم عبادت اِعتکاف هم دے- اِعتکاف کول زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَنِي مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیر خوښ وو- ❁ د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّیقه، طیبه طاهره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا نه روایت دے: مَنۡ اِعۡتَکَفَ اِیۡمَانًا وَّاِحۡتِسَابًا غُفِرَلَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنۡ ذَنۡبِهٖ یعنې چا چې د ایمان سره او د ثواب حاصلولو پۀ نیت اِعتکاف اوکړو د هغۀ مخکښني

---

1... مسلم، کتاب الصیام، باب فضل صوم المحرم، صفحه:424، حدیث:1163۔

2... ترمذی، کتاب الدعوات، باب فی دعاء النبی، صفحه:811، حدیث:3549۔

3... شعب الایمان، کتاب الصلوٰۃ، فصل تحسین الصلاۃ...الخ، جلد:3، صفحه:169، حدیث:3244۔

4... مراۃ المناجیح، جلد:2، صفحه:246 بتغیر قلیل۔

ګناهونه به اوبخښلے شي- [1] ❁ پهٔ يو بل روايت کښې دي: چا چې پهٔ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک کښې 10 ورځې اِعتکاف اوکړو هغه داسې دے لکه چې دوه حجونه او دوه عمرې يې اوکړې- [2]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي لاندې پهٔ ټوله دُنيا کښې پهٔ زرګونو ځايونو کښې د اخرۍ عشرې اِجتماعي سُنَّت اِعتکاف کولے شي، تاسو هم کوشش اوکړئ! د دې سره سره د ټولې مياشتې اِعتکاف هم کولے شي- دا ځل به پهٔ ټول پاکستان کښې پهٔ 29 ځايونو او پهٔ ټوله دُنيا کښې پهٔ 130 ځايونو کښې د ټولې مياشتې اِعتکاف کولے شي- که کيدے شي نو پهٔ خپل نزدې ځائے کښې پهٔ کيدونکې د ټولې مياشتې پهٔ اِعتکاف کښې شرکت اوکړئ- **الله** پاک دې توفيق در عطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف: شعبه روحاني عِلاج

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: خَيْرُ الدَّوَاءِ الْقُرْاٰنُ يعنې بهترينه دوائي قرآنِ کريم دے- [3]

علامه عبد الرؤف مناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: پهٔ قرآنِ کريم کښې څهٔ داسې آيتونه دي کوم چې د خاص مرضونو او د مصيبتونو د ختمولو د پاره دي، دا آيتونه خاص خلق پيژني- [4]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دعوتِ اِسلامي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غمژن اُمَّت د غمخورۍ د پاره يوه شعبه پهٔ نوم د روحاني عِلاج جوړه کړې ده-

---

1... جَامِع صغير، صفحه:516، حديث:8480-

2... جَامِع صغير، صفحه:516، حديث:8479-

3... ابن ماجه، کتاب الطب، باب الاستشفاء بالقرآن، صفحه:؟؟؟، حديث:3501-

4... ابن ماجه، کتاب الطب، باب الاستشفاء بالقرآن، صفحه:567، حديث:3501-

د دې شعبې لاندې پرېشانه مسلمانانو ته ❁ د بیمارۍ ❁ قرض ❁ کورونو کښې د جنګ جګړو نه د نجات وغیره د پاره فِي سبیل الله د قرآن او د حدیث او د بزرګانو د معمولاتو په رڼا کښې تعویذونه او روحاني وظیفې ورکولے شي او اِستخاره هم کولے شي-

اَلْحَمْدُلِلّٰہ! د دې شُعبې تر لاندې تقریباً د 3 زره او 700 نه زیاتې بستې (یعني سټالونه) د اَورادو او وظائفو او استخارې د پاره لګولے کیږي او د دې نه هره میاشت اوسطاً 8 لاکهه او 75 زره کسان فی سبِیلِ الله اَوراد او وظائف حاصلوي او استخارې کوي. د هر قِسمه پرېشانۍ په حالت کښې ټخپله هم د روحاني عِلاج د بستې نه تعویذونه او وظیفې حاصلې کړئ او پرېشان حاله اِسلامي ورونړو ته هم د دې ترغیب ورکړئ-

په ټول پاکستان کښې د آن لائن اِستخارې کولو نمبر نوټ کړئ:

**0213-717171-1**

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❁ **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** خاص طور د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په میاشت کښې امیرِ اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په مدني چینل باندې د مازیګر د نمونځ نه پس او د تراویحو نه پس د مدني مذاکرې په ذریعه د سوالاتو جوابات ورکوي. ټول ذمه داران او عاشقانِ رسول په دې مدني مذاکرو کښې ټخپله هُم شرکت کوئ او نورو خلقو ته هُم د دې دعوت ورکوئ ❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ هره هفته د یوې **دِیني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د روژې د میاشتې سینګار** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله ټخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر ***(Share)*** کړي! ❁ مکـتـبة الــمدینه وړاندې

کوي ډېره ښکلې رساله: **انوارِ فیضانِ رمضان**- پۀ دې رساله کښې ❀ د روژې د میاشتې د فضیلتونو ❀ برکتونو ❀ د روژې د فضیلتونو ❀ پیشمني او د روژه ماتي سُنَّت اعمال ❀ د شبِ قدر عظمت او د عبادتونو فائدې بیان کړے شوې دي- دا رساله د مکـتبة الـمدینه د یوې څانګې نه پۀ **25 روپۍ** پۀ بیعه حاصله کړئ، پخپله یـې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

❀ د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** پۀ خوشحالۍ کښې د ❀ کورونو ❀ دفترونو ❀ دکانونو ❀ محلو ❀ جوماتونو وغیره د ښائسته کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه زرۀ راښکونکـي ډیزائن پینا فلیکس او ښکلې د سینګار لړۍ پۀ بیعه حاصلې کړئ-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عطیاتو ترغیب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** ستاسو خپل دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتیاؤ [80] نه پۀ زیاتو شعبو کښې د دِین پۀ خدمت کښې مصروف دے-

❀ د **1500** نه زیات **جامعات الـمدینه** (ګرلز اینډ بوائز)، **19** زره **900 مدارس الـمدینه** (بوائز اینډ ګرلز) جوړ کړے شوي دي، پۀ کومو کښې چې حفظ او ناظره، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تخصصات (*Specialization*)، فرائض علوم کورسز کولے شي ❀ پۀ جامعات او مدارسُ الـمدینه ***(Boys & Girls)*** کښې د طالبِ علمانو مجموعي شمیره قریباً **5 لاکهه 69 زره** دہ- ❀ د فیضانِ اِسلامِک سکول، دار الـمدینه (سکول، کالج، یونیورسټي) شمیره **299** او د نارینؤ او زنانؤ طالبِ علمانو شمیره **د 54 زره** نه زیاته ده ❀ د دِیني لټریچر د چاپ کولو د پاره چاپ کوونکـي اداره **مکتبةُ الـمدینه** جوړه کړے شوې ده- د کومې تر لاندې چې پۀ سوونو کتابونه د لکونو پۀ شمیره کښې چاپ شوي دي-

**تاسو هم د دِین د خِدمت پۀ دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي**

له ورکړئ، ستاسو چنده یعنې ډونیشن پۀ هرقِسمه جائز، دیني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خیر ښیګړې، پۀ ښو او د امدن زیاتولو پۀ جائز او محفوظو کارونو کښې لګیدے شي د پاره د دې چې زیاتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم۔ تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## ږیره پرېښودل د خوږ مصطفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سنت دي

**د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک:** د غیر مسلمو مخالفت اوکړئ–! ږیرې اوږدې کړئ–! او بریتونه ښۀ واړۀ ساتئ–! (2)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ږیره پرېښودل د خوږ مصطفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سنت بلکې د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام سُنَّت دي. ❁ زمونږ د خوږ آقا، مکي مدني مصطفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارکه ږیره به تل د یو مُوټې په اندازه وه. ❁ چې د یو موټې نه به زیاته شوه، نو کمه به یې کړه. ❁ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارکه ږیره په پلنوالي کښې داسې

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...شرح السُنه، کتاب اللباس، باب الشارب، جلد:7، صفحه:79، حدیث:3193۔

وه چې سینه مبارکه به یې ډکه کوله (1) ﷺ زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ږیرې خرئیل او د بریتو غټول سخت ناخوښه ګڼل. په بهارِ شریعت کښې دي: د ږیرې خریل یا د یو موټې نه کمول حرام دي(2)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| رَبّ کے در پر جھکیں التجائیں کریں | بابِ رحمت کُھلیں قافلے میں چلو |
| عاشقانِ رسول ان سے رحمت کے پھول | آؤ لینے چلیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمعې او زیارت مینځنئ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندئ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې

1...انوارِ جمالِ مصطفٰے، صفحه:157 خلاصةً۔

2...بهارِ شریعت، حصه:16، جلد:2، صفحه:586۔

د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او **قَبْر** کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه **قَبْر** ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصًا

2 . . . القول البدیع، الباب الثانی، ص ۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.(1) راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللہُ عَنۡهُم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.(2) راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.(3) راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ۱۴۹

2... القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵

3... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۳۲۹/۲، حديث: ۳۰

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھۡلُہٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللہُ الۡحَلِیۡمُ الۡکَرِیۡمُ، سُبۡحٰنَ اللہِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِیۡم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵